Afghan Pro Bono Initiative

Hosted by Refugee Legal Support and Safe Passage International

# په وار وار پوښتل شوې پوښتنې
# بریتانیې ته د افغانانو لپاره د خوندي لارو په اړه

## په وار وار پوښتل شوي پوښتنې: د افغانانو د ځای پر ځای کولو د همکارۍ تګلاره (ARAP)

د پالیسي سکیم د غوښتنلیکونو لپاره خلاص دی.

آنلاین د غوښتنلیک فورمه شتون لري: مهرباني وکړئ دلته کلیک وکړئ.

تاسو کولی شئ د ARAP سکیم په اړه نور معلومات او د ځان مرستې لارښود دلته ومومئ.

**پوښتنه 1 :  د سکیم ARAP د څومره مودې لپاره خلاص دی؟**

د ARAP سکیم د بندیدو نیټه نلري. اوسنی لارښود وایي چې دا به د نږدې راتلونکي لپاره خلاص وي.

**پوښتنه 2 :  زه په افغانستان کې ژوند نه کوم، ایا زه بیا هم د ARAP لپاره غوښتنه کولی شم؟**

هو، تاسو کولی شئ د افغانستان څخه بهر ARAP  لپاره غوښتنه وکړئ.

**پوښتنه 3 : زه په افغانستان کې له برتانوي پوځ سره ترجمان وم. زه څنګه کولی شم په انګلستان کې د افغانانو لپاره د بیا میشتیدنې سکیم  لپاره غوښتنه وکړم؟**

د  ARAP  سکیم د هغو کسانو لپاره دی چې:

- څوک چې په مستقیم ډول د انګلستان حکومت لخوا ګمارل شوي؛ یا
- چا چې د انګلستان حکومت د نظامي یا ملي امنیت د اهدافو په لاسته راوړلو کې د یوې دولتي څانګې سره  له نږدې کار کړی وي او د انګلستان له حکومت سره د دوی د کار له امله په مستقیم خطر کې وي.

د برتانوي اردو لپاره  قراردادی ، یا د دوی لخو مستقیما په کار ګمارل شوي ژباړونکي هم مستحق دي چې غوښتنه وکړي د ARAP  تر سکیم لاندې.

د برتانوي اردو لخوا  د خپل کار په اړه د امکان تر حده ډیر شواهد او د دې په پایله کې د ګواښونو یا خطرونو په اړه توضیحات وړاندې کړئ.

**پوښتنه 4 : زه د ARAP  سکیم لپاره د حوالې شمیره / پاتې غوښتنلیک لرم زه څنګه کولی شم چې خپله قضیه د انګلستان له حکومت سره تعقیب کړم؟**

زه د ARAP  سکیم لپاره د حوالې شمیره / پاتې غوښتنلیک لرم زه څنګه کولی شم چې خپله قضیه د انګلستان له حکومت سره تعقیب کړم؟

که تاسو د خپل موجوده غوښتنلیک په اړه پوښتنه لرئ له دې بریښنالیک سره ARAP-Casework@mod.gov.uk اړیکه ونیسئ:

لاندې معلومات  په کې شامل کړئ:

- د حوالې شمیره
- د سیمه ایزو کارمندانو شمیر
- ستاسو د زیږیدنې نیټه او
- ستاسو بشپړ نوم.

د نوي غوښتنلیک د ډکولو لپاره، د سکیم تر لاندې یوه انلاین فورمه شتون لري:  مهرباني وکړئ دلته کلیک وکړئ.

**پوښتنه 5 : ما خپل اسناد له لاسه ورکړي، ایا زه بیا هم کولی شم د ARAP غوښتنلیک ورکړم؟**

هو تاسو کولی شئ چې یا لاندې کارونه وکړئ:

- د انګلستان حکومت څانګې ته د "موضوع لاسرسي غوښتنه" وسپارئ چې تاسو ور سره  کار کاوه او د هر ډول اسنادو د کاپي غوښتنه وکړئ؛ او/یا
- په خپل غوښتنلیک کې د خپل محلي کارمندانو شمیره ولیکي.

**پوښتنه 6 : زه څرنګه د  "موضوع لاسرسي غوښتنه" وسپارم SAR ؟**

که تاسو د دفاع له وزارت سره کار کړی، تاسو کولی شئ فورمه دلته ومومئ.

نوري دولتي اداري ممکن مختلفي پروسي د SAR  لپاره ولري. که تاسو له ( MOD) او یا (FCDO) سره کار نه وی کړئ نو موږ تاسو ته وړاندیز کوو چې تاسو د همهغو ادارو د ویب پاڼې چې تاسو ورسره کار کړی  د مختص  لپاره  و لټوئ.

**پوښتنه 7: زما د ARAP غوښتنلیک رد شو، ایا زه کولی شم د غوښتنلیک د بیاکتنه درخواست وکړم؟**

که غوښتنلیک د وړتیا په اساس رد شوی وي، تاسو کولی شئ د 90 ورځو په جریان کې د بیاکتنې غوښتنه وکړئ کله چې لیک د "بیاکتنې غوښتنه" فورمه له لارې صادر شوی و.

که تاسو قناعت ورکونکي نوي شواهد ولرئ چې تاسو په لومړني غوښتنلیک کې ندي سپارلي، نو تاسو کولی شئ

کله چې د بیا کتنې غوښتنه کوئ هغه هم اضافه کړئ.

**پوښتنه 8: ما د خپل ARAP د بیاکتنې رد ځواب ترلاسه کړ، زه څه کولی شم؟**

تاسو کولی شئ یوازې د بلې بیاکتنې غوښتنه وکړئ که تاسو قناعت ورکونکي نوي شواهد ولرئ چې په لومړني غوښتنلیک کې یې شتون نه درلوده، یا کله چې بیاکتنه ترسره شوې وي.

دا د بلې بیاکتنه تضمین نه کوي ځکه چې غوښتنلیکونه به د قضیې په اساس ارزول کیږي. تاسوباید چې بریښنالیک ARAP-Casework@mod.gov.uk. ورکړئ

**پوښتنه 9: د ARAP د غوښتونکي په توګه آیا زه کولئ شم د خپل ښځه/مېړه او ماشومانو لپاره چې له 18 کلونو نه یې عمر کم وي غوښتنه وکړم چې له ما سره په انګلستان کې یو ځای شي؟**

د کورنۍ ټول غړي باید ستاسو په غوښتنلیک کې شامل وي. که نه وي، نو دوی به د ARAP د سکیم لاندې په نظر کې و نه نیول شي. که تاسو د دوی نومونه نه وي وکړي او تر اوسه مو ځواب نه وي تر لاسه کړئ نو عاجل د ې بریښنالیک ARAP-Casework@mod.gov.uk ادرس ته واستوئ او د توضیحات په کې شامل کړئ:

- ستاسو د غوښتنلیک توضیحات؛ او
- د کورنۍ د غړو نومول.

د کورنۍ اضافي غړي ممکن په استثنایی شرایطو کې د ARAP د سکیم لاندې په نظرکې ونیول شي ، په دې اړه د نورو قانوني مشورو په لټه کې شئ.

**پوښتنه 10: زه د ARAP سکیم لاندې رااېستل شوی وم او زه دایمي ویزه لرم، د مېشته کېدو دایمي اقامه / زما د کورنۍ بالغ غړي پاتې شول (زاړه مور/پلار، بالغ ورور/خور او د هغوی کورنۍ)؛ دوی څنګه کولی شي غوښتنه وکړي چې په انګلستان کې له ما سره یوځای شي؟**

کله چې تاسو ته دایمي ویزه دایمي اقامه درکړل شو ستاسو د کورنۍ غړي نشي کولئ چې دې د ARAP سکیم لاندې غوښتنه وکړي. دوی باید مستقیماً غوښتنلیک د کورنیو چارو وزارت ته وسپاري چې له خپلې کورنۍ سره په انګلستان کې یو ځای شي. نور جزییات به دلته پیدا شي.

**پوښتنه 11: زما سازمان له (DFID) سره قراردادي وه، ایا زه د ARAP لپاره مستحق یم؟**

تاسو باید دا وښیئ چې:

- تاسو په مستقیم ډول د انګلستان د حکومت لپاره کار کاوه یا مو قرارداد درلوده؛ او
- ستاسو کار د انګلستان له اردو او ملي امنیت موخو سره د پام وړ او مثبته مرسته کړې ؛ او
- تاسو د دې له امله په مستقیم خطر کې یاست یا تاسو د دې کار په هکله داسې معلومات لرئ چې تاسو په خطر کې اچوي.

دا درې واړه اړتیاوې باید پوره شي.

د نورو جزیاتو لپاره، د [4 کټګورۍ کې لارښود وګورئ](د ځانګړې قضیې په اساس). هغه خلک چې د 4 کټګورۍ لاندې درخواست کوي باید خورا قوي شواهد ولري.

دغوښتنلیک د تر لاسه کولو لپاره چې ARAP لپاره کارول کېده مهرباني وکړئ [دلته](دلته) کلیک وکړئ.

**پوښتنه 12 : ما په افغانستان کې د یو نړیوال سازمان/ملګرو ملتونو/نړیوال غیردولتي سازمان لپاره کار کړی دی، ایا زه کولی شم د ARAP غوښتنه وکړم؟**

مهرباني وکړئ د **11 پوښتنې** ځواب وګورئ.

**پوښتنه 13 :ما د افغانستان له پخواني حکومت سره د فساد په وړاندې د مبارزه په برخه کې کار کړی، ایا زه د ARAP سکیم لاندې د درخواست مستحق یم ؟**

ما د افغانستان له پخواني حکومت سره د فساد په وړاندې د مبارزه په برخه کې کار کړی، ایا زه د ARAP سکیم لاندې د درخواست مستحق یم ؟

یوازې د افغان حکومت د یوې څانګې لخوا ګمارل به د ARAP د غوښتنلیک لپاره کافي نه وي. د دې لپاره چې په 4 کټګورۍ کې را شئ، دا باید وښودل شي چې:

- تاسو د انګلستان د حکومت د څانګې سره له نږدې کار کړی او دا رول پدې معنی دی چې کار یا د خدماتو چمتو کول د انګلستان اردو یا ملي امنیت په اهدافو کې د پام وړ او مثبته مرسته کړې؛ او
- تاسو د دې رول له امله په خطر کې یاست.

**پوښتنه 14: ما د افغانستان د حکومت لپاره د فساد، تروریزم او/یا مخدره موادو سره د مبارزې په برخه کې کار کړی؛ ایا زه مستحق یم چې ARAP سکیم لاندې د بیا میشتیدنې لپاره غوښتنه وکړم؟**

مهرباني وکړئ د **13 پوښتنې** ځواب وګورئ.

**پوښتنه 15:** آ یا د افغان ښځینه قاضیانو د ملاتړ کومه طرحه شته؟

د دې لپاره کوم ځانګړی سکیم شتون نلري. دا ممکن د قاضي لپاره ممکن وي چې د ARAP لاندې غوښتنه وکړي مګر یوازې که دوی د سکیم محدود معیارونه پوره کړي – دا به په ډېرو قضیو کې امکان ونلري.

## په وار وار پوښتل شوي پوښتنې: د افغان اتباعو د بیا مېشتېدا طرحه (ACRS)

دا سکیم د 2022 د جنوري په 6 پیل شو. دا یوازې د راجع کولو سکیم دی - د غوښتنلیک هیڅ پروسه نشته.

ACRS ته د راجع کولو لپاره درې اصلي لارې شتون لري:

**لومړی لاره** - هغه خلک چې د ( پتینګ اپریشن ) Operation Pitting لاندې راځي، یعني هغه کسان چې د انګلستان حکومت لخوا د2021 په دوبي کې له افغانستان څخه ایستل شوي وو، او هغه کسان چې مخکې راغوښتل شوي وو، مګر وی نشي کولی په الوتنو کو کې سپاره شي.

**دوهمه لاره** – هغه خلک چې د کډوالو لپاره د ملګروملتونو عالي لخوا راجع شوي چې په ګاونډیو هیوادونو کې کډوال دي، یعني هغه کسان چې له افغانستان څخه په ګاونډیو هیوادونو کې د کډوالو کمپونو ته تښتیدلي دي.

**دریمه لاره** - هغه کسان چې په خطر کې دي چې په افغانستان کې د انګلستان او نړیوالې ټولنې د هڅو ملاتړ کوي او هغه کسان چې په ځانګړې ډول زیان منونکي دي. په لومړي پړاو کې د برتانیا کونسل، د ګرېډ ورلډ GardaWorld قراردادیان، او د چیونینګ Chevening پخوانی محصلین راځي.

د بیا میشته کېدولو لپاره دایمي اقامه په دې معنی ده: د استوګنې دایمي اجازه د ACRS لاندې.

**پوښتنه 16: زه غواړم خپله کورنۍ د ACRS لارې لاندې را ولم زه څه باید وکړم؟**

د جولای په 30 مه، د انګلستان حکومت د جلا شویو افغان کورنیو د بیا میشتیدنې نوی سکیم پرانیستله د افغان اتباعو د بیا مېشتېدنې سکیم (د ای سي ار اس) 1 لارې 2 مرحله لاندې. دا لاره د2024 کال د اکتوبر په 30 مه د ماسپښین په 3 بجو وتړل شوه. که په هر دلیل تاسو سوچ کوئ چې وړ یاست مګر ومو نه شوکولائ چې خپل غوښتنلیک په خپل وخت وسپارئ مهرباني وکړئ په دې ایمیل اړیکه ونیسئ
acrsp1separatedfamiliesinforequests@homeoffice.gov.uk هغه دلیلونه تشریح کړئ چې تاسو ولی د مهلت نیټه له لاسه ورکړی.

**پوښتنه 17: آیا زه کولی شم پرته له خپل BRP یا UAN نه فورمه ډکه کړم؟**

د BRP له شمېرې پرته به تاسو د سپانسر راجع کولو فورمې ته لاسرسی ونلرئ. که تاسو یې نلرئ/ یا یې نشئ پیداکولائ، مهرباني وکړئ د کورنیو چارو وزارت ته بریښنالیک ورکړئ
ACRSP1SeparatedFamiliesInfoRequests@homeoffice.gov.uk

**<u>پوښتنه 18:</u> د ACRS د سپانسر راجع کولو فورمه د "تفصیلات و نه موندل شو" تېروتنه ورکوي کله چې زه هڅه کوم چې فورمه پیل کړم که څه هم زه د ACRS سټېټس لرم زه باید څه وکړم؟**

داسي راپورونه شتون لري چې ځيني سپانسران نشي کولی د ACRS د سپانسر راجع کولو آنلاين فورمه ته لاسرسی وموميِ پداسي حال کې چې دوی د **BRP** وړه شمېره لري. که داسي وي، مهرباني وکړئ ، اړيکه ونيسئ ACRSP1SeparatedFamiliesInfoRequests@homeoffice.gov.uk

او تشريح کړئ چې تاسو د راجع کولو فورمې ته لاسرسی کې ستونزي لرئ.

**<u>پوښتنه 19:</u> زما د غوښتنلیک په اړه د ځواب ترلاسه کول څومره وخت نیسي؟**

د کورنیو چارو وزارت د غوښتنلیکونو د بیاکتني لپاره ځانګړی موده نه ده ټاکلې.

**<u>پوښتنه 20:</u> آیا زما کورنی باید مخکې له مخکې د VAC لپاره دملاقات وخت واخلي؟**

د VAC لپاره د مخه د ملاقات د وخت اخيستل پکار نه دي.

**<u>پوښتنه 21:</u> آیا کېدائ شي چې زما کوری VAC ته د سفر کولو څخه معاف شي؟**

VAC ته د سفر څخه د معافيت په اړه هيڅ لارښود نشته. د کورنيو چارو وزارت ويلي دي چې غوښتونکي بايد خپل بايوميټريکونه په دريم هيواد کي په VAC کې ثبت کړي او يوځل چئ د مستحق په توګه ومنل شي غوښتونکي بايد په خپله هغه دريم هيواد ته خپل سفر تنظيم کړي. يو ځل چي دريم هېواد ته ورسيدل، د کډوالو لپاره نړيوال سازمان **(IOM)** د استوګنځی په چمتوکولو کې مرسته وکړی، تر څو چې چې بايومتريک او روغتيايی معاينات تنظيم شي او بيا به انګلستان ته راتلونکی سفر تنظيم کړي.

VAC ته د سفر څخه د معافيت دغوښتلو لپاره مشوره نه ورکول کېږي ځکه چي دا ممکن پروسه وځنډوي**.** په هرصورت، که چيري هيڅ کومه لاره نوي چي د کورنی غړي VAC ته د سفر وکړي نو بايد چي د کورنيوچارو وزارت سره اړيکه ونيسئ او دليلونه ورکړئ چي ولي د دوی لپاره ممکن ندي چي دا سفر وکړي
ACRSP1SeparatedFamiliesInfoRequests@homeoffice.gov.uk

**<u>پوښتنه 22:</u> زه باید څه وکړم که زما غوښتنلیک د کورنیو چارو وزارت لخوا رد شو؟**

د انکارپه ليک کي به دا تشريح شوي چي ايا تاسو د پريکړې د بياکتني حق لرئ. که تاسو د بياکتني حق لرئ، د بياکتني غوښتنه بايد د 14 ورځو دننه وسپارل شي. دا سمه ده چي قانوني مشوره وغواړئ که چيري تاسو رد ځواب ترلاسه کړئ. د مهاجرت مشاور به تاسو ته ستاسو د ځانګړو شرايطو په اړه د غوره عمل په اړه مشوره درکړي.

**<u>پوښتنه 23:</u> زه بيا ميشته کېدولو لپاره دايمي اقامه لرم. زما ښځه/مېړه چي بېرته پاتي شوی څنګه کولی شي په انګلستان کې زما سره يوځای شي؟**

میره او ښځه د اصلي غوښتونکي سره د ACRS لاندې د بیا میشتیدنې مستحق دي. که ستاسو ښځه/ مېړه له تاسو سره ځای پر ځای شوی نه وي، نو تاسو باید چې د دوی سره د یوځای کیدو لپاره د غوښتنلیک لپاره د یوې غورې لارې په اړه جلا قانوني مشوره وغواړئ.

**<u>پوښتنه 24:</u> زه بیا میشته کېدولو لپاره دایمي اقامه لرم، ایا زه کولی شم خپل مور او پلار او خویندو/ ورونو لپاره چې عمرونه یې له 18 کلونو څخه پورته وي یو نوی غوښتنلیک ډک کړم؟**

د دې حالت لپاره هیڅ غوښتنلیک شتون نلري.

یوازې په استثنایی / نادرو شرایطو کې، به دا ممکنه وي چې د مور او پلار او خویندو/ ورونو لپاره چې عمرونه یې له 18 کلونو څخه پورته وي ACRS لاندې بیا میشته شي. مهرباني وکړئ د کورنۍ د بیا یوځای کیدو برخې ته د توضیحاتو لپاره مراجعه وکړئ چې څنګه د کورنۍ نور غړو لپاره درخواست وکړئ.

**<u>پوښتنه 25:</u> زه د مدني حقونو/د ښځو د حقونو فعال یم، زما لپاره کومه لاره ده؟**

دا به دریمې لارې لاندې راشي، مګر د غوښتنې څرګندونه اوس مهال بنده ده.

**<u>پوښتنه 26 :</u> د ACRS د دریمې لارې لاندې په سکیم کې 'په استثنایی ډول متقاعده شرایط' څنګه تشریح کیږي؟**

په دې اړه خورا لږ لارښود چمتو شوی چې د 'استثنایي متقاعد شرایطو' معنی څه ده. دا احتمال لري چې دا یو لوړ حد وي.

**<u>پوښتنه 27 :</u> زه د برتانیې تبعه یم، کله چې زه په افغانستان کې وم، ما ته د (FCDO ) څخه زنګ راغی زما د کورنۍ د پاسپورټ د توضیحاتو د اخیستلو لپاره، خو او تر اوسه مې بیا هیڅ نه دي اوریدلي.**

مهرباني وکړئ د پوښتنې فورمه ډکه کړئ کوم چې [دلته](#) موندل کیدی شي.

**<u>پوښتنه 28 :</u> زه خبریال یم او له مطبوعاتو سره کار کوم، زما لپاره کومه لاره ده؟**

یو ژورنالیست کیدای شي د هغو کسانو په ډله کې شامل وګڼل شي چې په افغانستان کې یې د انګلستان له هڅو سره مرسته کړې او د ډیموکراسۍ/د ازادۍ د بیان په څیر ارزښتونو ته یې غاړه ایښې ده. څرنګه چې د ACRS یوازې راجع کول دي، نو دا ممکنه نه ده چې غوښتنلیک جوړ کړئ.

**<u>پوښتنه 29 :</u> زه څنګه کولی شم د کډوالو لپاره د ملګروملتونو عالي کمېشنرۍ څخه د ACRS د دوهمې لارې راجع کول تر لاسه کړم؟**

د افغانستان اتباع یوازې د ACRS دوهمې لارې ته راجع کېدلی شي که دوی له افغانستان څخه بهر وي.

د د کډوالو لپاره د ملګروملتونو عالي کمېشنرۍ څخه د ACRS د راجع کولو د امکاناتو د زیاتولو لپاره تاسو باید په هر هیواد کې چې یې ځان راجستر کړئ. په اکثر هیوادونو کې د د کډوالو لپاره د ملګروملتونو عالي کمېشنرۍ منابو لیست انلاین شته مهرباني وکړئ دلته کلیک وکړئ .

یوځل چې تاسو راجستر وکړئ، د کډوالو لپاره د ملګروملتونو عالي کمېشنرۍ به ستاسو د بیا میشتیدنې کټګوریو ته په پام سره ستاسو وضعیت په پام کې ونیسي: مهرباني وکړئ دلته کلیک وکړئ.

تاسو نشئ کولی درخواست وکړئ چې سکیم ته راجع شئ. وروسته له دې چې تاسو ځان راجستر کړ،بیا نو دا د کډوالو لپاره د ملګروملتونو عالي کمېشنرۍ پورې اړه لري چې تاسو راجع کوي او یا نه.

## په وار وار پوښتل شوي پوښتنې: د زده کونکو په هکله د ویزې ترلاسه کولو پوښتنې

**پوښتنه 30 : زه د کډوالی د دایمي استوګنې اجازه لرم ایا زه کولی شم د خپلې کورنی نورپراخه غړي چې له 18 کلونو څخه یې عمر کم وي سپانسر کړم؟**

دا ممکنه ده چې د کورنی نور غړي سپانسر کړئ ، د (SNP) د قواعدو ضمیمه لاندې چې کوچنیان (د 18 څخه کم دي، نور معلومات دلته موندلی شئ.

**پوښتنه 31 : زه د کډوالی د دایمي استوګنې اجازه لرم ایا زه کولی شم خپل ماشومان چې له 18 کلونو څخه یې عمر پورته ده سپانسر کړم؟**

که تاسو د د کډوالی دایمي اقامه لرئ نو دا به د ( FRP 6.2 ) د مقرراتو دلاندې ممکن وي چې بالغ ماشومان (چې عمر یې له 18 ډېر وي) په استثنایی شرایطو کې اسپانسر کړئ. نور معلومات دلته موندلی شئ.

که ستاسو د دایمی استوګنې اجازه د مهاجر یا ACRS په توګه نه وي، موږ وړاندیز کوو چې تاسو د خپل انفرادي شرایطو پراساس د داسې غوښتنلیک جوړولو لپاره د یوې غوره لارې په اړه قانوني مشوره ترلاسه کړئ.

**پوښتنه 32 : زه د مهاجرو دایمي د استوګنې اجازه لرم، ایا زه کولئ شم د کورنی نور غړي چې له 18 کلونو څخه یې عمر ډېر وي سپانسر کړم؟**

د ضمیمې FM لاندې، دا نور امکان نلری چې د بالغ ضرورتمند کورني غړي لپاره غوښتنلیک جوړ کړئ.

**پوښتنه 33 : زه د مهاجرو دایمي د استوګنې اجازه لرم، ایا زه کولئ شم د کورنی نور غړي چې ما پورې وابسته وي سپانسر کړم؟**

هو، تاسو کولئ شی چې د ADR ضمیمي لاندې د بالغ وابسته خپلوان (کورنی ویزې) لپاره غوښتنه وکړئ.

نور معلومات دلته موندلی شئ.

**پوښتنه 34 : زه په انګلستان کې مهاجر یم، ایا زه کولی شم چې خپل بوډا مور او پلار له افغانستان څخه سپانسر کړم؟**

مهرباني وکړئ د **33 پوښتني ځواب** وګورئ.

**پوښتنه 35 : زه د برتانيي تبعه یم، ایا زه کولی شم د خپلي کورنی نور غړي سپانسر کړم (بالغ خویندئ/ ورونه، زاړه والدین، د تره/ماما/ترور زوی/لور او نور)؟**

مهرباني وکړئ د **33 پوښتني** ځواب وګورئ.

**پوښتنه 36 : زه د مهاجرو دايمي د استوګني اجازه لرم، ایا زه کولئ شم چې خپل ښځه/میره چې زه د افغانستان له پریښودولو وروسته ورسره آشنا شوم سپانسر کړم؟**

که تاسو د خپل ښځي/مېړه سره له وتلو وروسته آشنا شوی، نو تاسو د کډوالو د کورنی د بیا یوځای کیدو لاره نه شئ کارولی. په هرصورت، تاسو کولی شئ خپله ښځه/مېړه د FM ضمیمي د قواعدو لاندې سپانسر کړئ ترڅو انګلستان ته راشي. تاسو کولی شئ د اف ام ضمیمه لاندې هم غوښتنه وکړئ که تاسو د مهاجرو دایمي د استوګني اجازه لرئ یا د برتانیا تابعیت لرئ. شرایط دلته موندل کیدی شي.

**پوښتنه 37 : زه د برتانيي تبعه یم، ایا زه کولی شم خپله ښځه/ میره سپانسر کړم؟**

مهرباني وکړئ د **36 پوښتني** ځواب وګورئ.

**پوښتنه 38 : زه په انګلستان کې یو افغان محصل یم. ایا زه کولی شم په انګلستان کې د کار ویزې لپاره غوښتنه وکړم؟**

که تاسو د زده کونکي ویزې لرئ نو تاسو باید د خپلي ویزې په اساس د محدود شمیر ساعتونو لپاره کار وکړئ ، تاسو باید دا د خپل بایومیټریک د استوګني جواز کارت په شرایطو کې معلوم کړئ. معمولا، تاسو نشئ کولی په اونی کې د 20 ساعتونو څخه زیات د سمستر په جریان کې کار وکړئ.

موږ وړاندیز کوو چې تاسو د خپلو شرایطو پراساس پدې اړه قانوني مشوره وغواړئ.

**پوښتنه 39 : که زه په انګلستان کې د زده کونکي په ویزې یم، ایا زه کولی شم په انګلستان کې د پناه غوښتنه وکړم؟**

هو، که تاسوپه انګلستان کې یاست یوازې هغه وخت کولی شئ د پناه غوښتنه وکړئ.

که تاسو دلته د یو څه موډې لپاره په بله ویزه باندې یاست نو زموږ وړاندېز دا ده چې د خپل غوښتنلیک له وړاندې کولو دمخه د خپل وضعیت په اړه خپلواکه قانوني مشوره وغواړو. د پناه غوښتنې د مسلو لپاره قانوني مرستې د هغو خلکو لپار شتون لري چې هیڅ / ټیټ عاید ولري.

د وکیل سره د تماس لپاره دلته کلیک وکړئ، او د کډوالۍ مشاور سره د اړیکه لپاره دلته کلیک وکړئ

**په وار وار پوښتل شوې پوښتنې: نورې**

**پوښتنه 40 : زه د دایمي استوګنې اجازه لرم آیا زه د سفر د جواز د اسنادو د غوښتنې مستحق یم ؟**

که تاسو د دایمي استوګنې اجازه د مهاجرو په توګه تر لاسه کړې وي نو تاسو به د مهاجرو د سفر د جواز مستحق یاست.

په هرصورت، که تاسو د دایمي استوګنې اجازه د ACRS یا د ARAP لاندې اخیستې وي نو تاسو به د

د مهاجرو د سفر د جواز مستحق نه یاست. پرځای یې، تاسو کولی شئ د سفر سیرتیفکیټ سند لپاره غوښتنه وکړئ په هغه صورت کې چې تاسو نشئ کولی د افغانستان له سفارت څخه ملي پاسپورت تر لاسه کړئ. دا ۲۸۰ پونده لګښت لري او نور توضیحات دلته دي. دا ممکن د درخواست کولو دمخه د کډوالۍ مشورې د تر لاسه کولو ارزښت ولري ځکه چې دا خورا لوړ لګښت دی او ټول هیوادونه یې نه مني.

**پوښتنه 41 : زه دایمي د استوګنې اجازه لرم ایا کولئ شم خپل افغاني پاسپورټ له انګلستان څخه بهر سفر لپاره وکاروم؟**

که تاسو افغاني پاسپورټ لرئ او تاسو د دایمي استوګنې اجازه لرئ د ARAP یا ACRS لومړې لارې یا دریمې لارې لاندې، تاسو کولئ شې په خپل پاسپورت سفر وکړئ.

د بهرنیو چارو وزارت دا مهال خلکو ته سپارښتنه کړې چې افغانستان ته دې سفر نه کوي.

**پوښتنه 42 : کله به زه د بریتانوي پاسپورټ د غوښتلو لپاره مستحق شم د ARAP او ACRS دایمي استوګنې د اجازې درلودونکې)؟**

که تاسو د دایمي استوګنې اجازه لرئ (ILR)، لږ تر لږه د ۵ کلونو لپاره ولرئ تاسو کولی شئ د برتانیا د تابعیت لپاره غوښتنه وکړئ.

د برتانیا د تابعیت اخیستلولپاره شرایط دلته موندل کیدی شي.

**پوښتنه 43 : د مهاجرینو او د دایمي استوګنې د اجازې یا د استوګنې د اجازې د درلودونکو ترمنځ توپیرونه څه دي؟**

د دایمي استوګنې اجازه پدې معنی ده چې په انګلستان کې ستاسو د پاتې کیدو لپاره د وخت محدودیت شتون نلري او تاسو کولی شئ دلته دایمي پاتې شئ. ستاسو ستېتس یوازې د خطر سره مخ دی که تاسو د 2 کلونو څخه زیات انګلستان څخه بهر ولاړ شئ، یا که تاسو یو جدي جرم ترسره کوئ.

کډوال په پیل کې د 5 کاله لپاره په انګلستان کې پاتې کیدی شي (د استوګنې اجازه لري) او بیا کولی شي د دایمي استوګنې لپاره غوښتنه وکړي.

د استوګنې اجازه پدې معنی چې تاسو دلته د اوسیدو حق لرئ مګر دا محدود وخت دی او دا به ستاسو د بایومیټریک د استوګنې جواز کارت کې درج وي. د پاتې کیدو اجازه معمولا په 2.5 کلونو مودو کې ورکول کیږي.